## په 22 می 2019 بیا چاپ شوی

# د شاهی کمیسیون پلټنی د کرایستچرچ 15 مارچ 2019 جوماتونو د برید په اړه د 2019 حکم

(LI 2019/72)

# مهالویش
# لایحه عمل

cl 8

## 1 شالید

(1) په 15 مارچ 2019، یو کس د النور او لینوود په جوماتونو په کرایستچرچ کی برید وکړ کله چی عبادت کونکی په لمانځه بوخت وو. یو پنځوس کسان ووژل شول او د 50 څخه زیات کسان ټپیان شول، چی یو شمیر یی وخیم حالت درلود. یو کس د دی جرمونو په تړاو تورن شوی او د محکمی منتظر دی.

(2) حکومت اعلان کړی دی چی یو شاهی کمیسیون به وتاکل شی تر څو وڅیړی چی د حکومت اړونده ادارو د دی کس په فعالیتونو د برید نه مخکی څه پوهیدل، څه وو، که څه یی درلودل، د دی مالوماتو سره یی څه وکړل، دی ادارو څه اقدام نیولی شوی چی د دی برید مخنیوی وکړی، او څه اقدامات دا اړونده اداری نیولی شی تر څو د داسی بریدونو مخنیوی په راتلونکی کی وکړی.

(3) دا پلټنی ته پکار ده چی د دغه مسئلو په اړه بیړنی راپور ورکړی تر څو حکومت د دی مسئلو په اړه خپلواک او مستند راپور ولری تر څو د نیوزیلند خلک، په ګډون د مسلمانو ټولنو ډاډمن شی، دا چی د اړوندو ادارو لخوا ټول مناسب تدابیر نیول شوی تر څو د دوی خوندیتوب او امنیت وساتی.

(4) حکومت تمه لری چی دا پلټنه به د نیوزیلند مسلمانو ټولنو سره په دی مسئلو باندی اړیکه او تماسونه ولری.

(5) حکومت دا ډاډ ترلاسه کړی دی او تمه لری چی د حکومتی سکتور ټول اړونده اداری، افسران، او کارکوونکی به تر خپله وسه کوښښ وکړی چی د دی پلټنی او د دی مسئلې د اهمیت سره په پام کی نیولو سره چی دا پلټنه به یی څیړی او راپور به پری ورکوی ورسره همکاری وکړی.

مهالویش ماده 1 (1): ترمیم شو، په 22 می 2019، د (1)6 مادی د شاهی کمیسیون پلټنی د کرایست چرچ جوماتونو برید په 15 مارچ 2019 ترمیم حکم 2019 (LI 2019/105).

## 2 د دی پلټنی موخه او عامه اهمیت یی

د عامه اهمیت مسئله چی دی پلټنی ته لارښوونه کوی چی ویی څیړی—

(a) د حکومتی سکتور اړونده اداری د هغه کس د فعالیتونو په اړه کوم چی په 15 مارچ 2019 د النور او لینوود په جوماتونو باندی بریدونه وکړل او محکوم شویدی، د برید څخه د مخه څه پوهیدل، او

(b) کوم ګامونه (که کوم وی) د حکومتی سکتور اړوندو ادارو د دی پوهی په رڼا کی واخستل، او

(c) که چیری کوم اضافی اقدامات شتون درلود چی د حکومتی سکتور اړوندو ادارو د برید د مخنیوی لپاره نیولی وی، او

(d) کوم اضافی ګامونه په راتلونکی کی د حکومتی سکتور اړوندو ادارو لخوا د ورته بریدونو د مخنیوی لپاره نیول کیدی شی.

## 3 د دی پلټنی حد او اندازه

د دی موخه تر لاسه کولو لپاره، دا پلټنه باید تحقیقات وکړی پدی—

(a) د دی کس فعالیتونه د برید نه مخکی، په ګدون د—

(i) په استرالیا کی د هغه د وخت په اړوند مالومات، او

(ii) د هغه راتګ او استوګنځی په نیوزیلند کی، او

(iii) د هغه سفر په نیوزیلند د ننه او په نړیواله کچه، او

(iv) څرنګه یی د ټوپک جواز، وسلې، او مهمات تر لاسه کړل، او

(v) د هغه کارول د ټولنیزو رسنیو او نوری انلاین میدیا، او

(vi) د هغه اړیکی د نورو سره، که په نیوزیلند او یا نړیواله کچه وی، او

(b) د حکومتی سکتور اړونده اداری د هغه کس د فعالیتونو په اړه د برید نه مخکی څه پوهیدل، څه اقدامات (که څه یی کړی وی) د دی پوهی په رڼا کی دی کړی دی، او ایا کوم اضافی ګامونه د اړوندو سکتورنو اداری د برید د مخنیوی د پاره نیولی شول، او

(c) ایا د اړوندړو حکومتی ادارو د مالوماتو په ټولولو او شریکولو کی کوم خندونه شتون درلود، او یا په دی مالوماتو یی اقدام کول، په ګدون د قانونی خندونو، او

(d) ایا د برید د مخه د اړوندو حکومتی سکتور ادارو لخوا د ترهګری سره د مبارزی د سرچینو د نا مناسب تمرکز او یا د لومړیتوب ترتیب شتون درلود.

## 4 هغه مسئلی چی په اړه یی موندنی کیږی

دا پلټنه باید په لاندی مسئلو د خپلی موندنی راپور ورکړی:

(a) که چیری کوم مالومات د اړوندو حکومتی سکتور ادارو ته ورکړل شوی وی چه د دی برید نه یی دوی ته خبرداری ورکړی وی، که داسی مالومات چمتو شوی او یا شتون ولری، دی اړوندو ادارو د دی مالوماتو په تړاو څه ځواب ووایه، او ایا دا ځواب مناسب وو، او

(b) د حکومتی سکتور اړوندو ادارو تر منځ تعامل، په ګدون د چی ایا د اړوندو ادارو تر منځ د مالوماتو په شریکولو کی کومه ناکامی شتون درلود، او

(c) ایا د حکومتی سکتور اړوندو ادارو د ترهګری ضد سرچینو نا مناسب تمرکز یا د ترهګری په نورو ګواښونو کی د لومړیتوبونو له امله د برید تمه کول یا پلان کولو کی پاتی راغلی دی، او

(d) ایا د حکومتی سکتور اړوندو ادارو اړین معیارونه پوره نکړل یا په غلطه کی وو، که په بشپړ دول یا په یوه برخه کی، او

(e) د پلټنی په اړوند نوری مسئلی، تر هغه حده چه د راپور د چمتو کولو لپاره اړین وی.

## 5 هغه مسئله چی په اړه یی وړاندیزونه غوښتل کیږی

(1) دا پلټنه باید هغه وړاندیزونه چی مناسب یی بولی وکړی په لاندینیو مسئلو باندی:

(a) ایا د اړوندو حکومتی سکتور ادارو لخوا د مالوماتو په راټولولو، شریکولو، تحلیلی کړنو کی کوم پرمختګ شتون لری چی کولی یی شول د برید مخه ونیسی، یا کولی شی په راتلونکی کی د ورته بریدونو مخه ونیسی، په ګدون دی، اما دی ته محدود ندی، مهالویش، بشپړتیا، موثریت، او د مالوماتو د شریکولو لړی، یا د اړونده حکومتی ادارو تر مینځ د مالوماتو سنجول، او

(b) کوم تغییرات، که وي، باید پلي شي تر څو د اړونده حکومتي سکتور ادارو سیستمونو، یا عملیاتي کړنو ته وده ورکړي، تر څو په راتلونکي کې د ورته بریدونو مخه ونیسي، او

(c) نورې کومې مسئلې د پورته ټکیو په اړه، تر هغه حده لازمي چه د راپور په بشپړولو او چمتو کولو ته اړین وي.

(2) د شک څخه د مخنیوي لپاره، سپارښتنې ممکن د قانون سره تړاو ولري (مګر د تسلیحاتو د قانون پرته)، پالیسي، قانون، معیارونه، او یا اجرآت چه د لایحه عمل سره ارتباط ولري، چې د دموکراتیکې ټولنې او په پراخه توګه منل شوي ارزښتونو سره مطابقت ولري.

## 6 د دې پلټنې د واک محدویتونه

(1) د 11 مادې سره سم د 2013 د پلټنې قانون، دا پلټنه د مدني، جنایي، یا د دسپلینو په کوم شخص باندې واک نلري، اما کیدی شي د خپل واک د کارولو او خپلې دندې په تر سره کولو کې، د اشتباه او سپارښتنې چې د جرمونو لپاره د ګام په پورته کولو کې شي.

(2) دا پلټنه باید د کوم شخص د ګناه یا بې ګناهي په اړه تحقیقات ونکړي څوک چې د برید په تړاو تورن شوی وي، یا کیدی شي چې وي.

(3) دا پلټنه باید تحقیقات، تصمیم، او یا هم لنډ مهاله او نهایي راپور په لاندینو مسئلو ونکړي:

(a) د سلاحو په قانون کې تعدیلات (ځکه چې حکومت دا مسئله په جلا ډول تعقیبوي):

(b) د دولتي سکتور څخه بهر د نورو ادارو یا سازمانونو لخوا فعالیت، لکه د رسنیو پلیت فارمونه:

(c) د حکومتي سکتور اړوندو ادارو د 15 مارچ 2019 په بریدونو کې څرنګه عکس العمل وښود کله چه برید پیل شوی وو.

## 7 دا پلټنه کیدای شي نور تحقیقات او څیړنې په نظر کې ونیسي

دا تحقیقات ممکن د کومې بلې پلټنې پایلو او څیړنو چې د لایحه عمل سره تړاو ولري په نظر کې ونیسي، مګر په هیڅ ډول د داسې تحقیقاتو په پایلو یا وړاندیزونو پابند ندی.

## 8 دا پلټنه کیدای شي د نورو اشخاصو یا مراجعو سره مشوره وکړي

(1) دا پلټنه کیدای شي د نورو ارګانونو او اشخاصو سره، په ګډون د استخباراتو او عمومي امنیت مفتش سره مشوره وکړي، که چیرې دوی داسې وڅیرې چه مشوره کړل به د دوی په دندو کې مرسته وکړي.

(2) حکومت دا تمه لري چې دا پلټنه به داسې یو وړ شخص یا اشخاص وټاکي چې د دې پلټنې سره د نیوزیلند د مسلمانو ټولنو سره رابط واوسي، او دا پلټنه به د دې ټولنو سره د خپلو مسئولیتونو د سرته په رسولو کې کله چې ورته اړتیا ولري مشوره وکړي.

## 9 د دې پلټنې کرنلاره

د دې پلټنې د تر سره کولو کې، دا پلټنې څخه تمه کیږي چې دا شواهد په پام کې ونیسي—

(a) د اړونده اداره افسران او کارکوونکي، او

(b) نور اړوند اشخاص، په ګډون دی مسلمانو ټولنو غړي.

## 10 د پلټنې اصول

(1) د دې لایحه عمل د شرایطو او د راپور ورکولو د اړتیا په اساس، دا پلټنه ته لارښوونه شوې چې د خپل واک څخه کار واخلي چې د راپور او د پروسې لړې احتمال دې ته کم کړي، چې د شخص یا

ګروپ، یا د هغې یوه برخه (په ګډون دی هغه شخص چې د دی برید په اړه تورن دی) چې غیر قانوني فعالیتونه ته وده ورکړی، یا عامه ګټو ته زیان ورسوی.

(2) هغه مسئلی چې دا پلټنې ته سپارل شوی دی په مستقیم دول د حکومتی سکتور اړوندو ادارو په عملیاتو اړه لری، په ګډون دی استخباراتو او امنیت اداری، چې د عامه خوندیتوب لپاره د عامه ګټو لپاره محرمیت ولری، چې د نیوزیلند اړیکی د نړیوالو اړیکی پرته له تعصب سره چلند وشی او په اعتماد باندی د مالوماتو ورکول د نیوزیلند حکومت ته او د قانون ساتل وی.

(3) په دی اساس، دا پلټنه باید، هر چیرته چې ورته د محرمیت ساتل اړین وی، دا پلټنه، یا هره یوه برخه یی، په خصوصی ډول سره تر سره کړی. دا پلټنه باید د پلټنی مالوماتو ته لاسرسی محدود کړی (په ګډون دی شواهد، سپارنی، حکمونه، د اوریدنی لیکنی، او د شاهدانو هویت او یا د نورو اشخاصو پیژندنه) چیری چې دا ګامونه اړین بولی—

(a) په دی ترتیب—

(i) د نیوزیلند د امنیت یا دفاعی ګټو ساتنه او یا د نیوزیلند د حکومت نړیوالی اړیکی ساتل:

(ii) د کوم بل هیواد یا نړیوال سازمان لخوا د اعتماد پر اساس نیوزیلند ته د هغه مالوماتو چه چمتو شوی دی د هغوی محرم ساتل:

(iii) د شاهدانو یا نورو اشخاصو هویت ساتنه:

(iv) د قانون ساتنی او د تعصب څخه ساتنه، په ګډون دی مخنیوی، تحقیق، او د سر غړونی کشف:

(v) دا ډاډ تر لاسه کول چې د شخص عادلانه محکمه حقونه خوندی ساتل:

(vi) دا ډاډ تر لاسه کول چې اوسنی یا راتلونکی جرمی، ملکی، جزایی، او هر بل اجرآت د تعصب نه خوندی ساتل، او

(b) او که هر کوم دلیل لپاره دا پلټنه یی اړین او مناسب بولی.

(4) د دی پلټنی راپور باید هغه مهم او حساس مالومات افشا نکړی (لکه په 202 برخه د استخباراتو او امنیتی قانون 2017 کی تعریف شوی دی).

مهالویش ماده 10(4): ترمیم شوی، په 22 می 2019، د 6(2) ماده او د شاهی کمیسیون پلټنی د کرایستچرچ د جوماتونو برید په 15 مارچ 2019 حکم ترمیم شوی 2019 (LI2019/105).

## 11 راپور ورکول

(1) دا پلټنه باید خپل راپور، په ګډون د موندنو او وړاندیزونه، ګورنر جنرال ته، تحریری، او تر 10 دسمبر 2019 وړاندی کړی.

(2) د دی اړتیا سره په پام کی نیولو سره چې عامه خوندیتوب تضمین کولو لپاره ګامونه پرته له ځند څخه اخستل کیږی، یو ځل چې تاکل شی دا پلټنی ته لارښوونه کیږی، د هر دول احتمال سره، ایا لنډ مهاله وړاندیزونه ګورنر جنرال ته وکړی، او، که داسی وی، کله دا لنډ مهاله وړاندیزونه وشی، او دا وړاندیزونه ګورنر جنرال ته په هر وخت او مخکی د نهایی راپور نه وړاندی شی.

(3) دا پلټنه باید، مخکی لدینه چې خپل نهایی راپور وړاندی کړی، دا مشخصه کړی چې ایا د دی پلټنی څخه به کومی مسئلی راپورته شی—

(a) چې دا باید د استخباراتو او امنیتی کمیتی ته راپور ورکړی چې د 192 برخه د استخباراتو او امنیتی قانون 2017 کی ورته اشاره شوی، یا

(b) کوم چی په عملیاتی ډول حساس دی، په ګډون دی هری موضوع په اړه چی د استخباراتو راټولولو او د اجرآتو د پروسی وی، او یا د مالوماتو سرچینه وی، چی باید دا راپور هغه وزیر ته چی د استخباراتو او امنیتی ادارو مسئول دی، او یا د استخباراتو او امنیت عمومی مفتش، او یا دواړو ته،

که داسی وی، دی باید راپور وکړی او یا هم راپور ورکړی.

په دی شاهد یو چی موږ د دی لامل شوی یو چی دا کمیسیون خپور شی او د نیوزیلند په مهر پدی ورځ 8 مه د اپریل 2019 په ویلینګټون کی ضمیمه وی.

زموږ اعتماد زموږ په ډیر محبوبه جلالتمابه دیم پټسی ریدی، چانسلر او د نیوزیلند سر اعلی قوماندان زموږ د خدماتو امره، ګورنر جنرال او د نیوزیلند او د هغی د ساحوی سر اعلی قوماندان.

پټسی ریدی،
ګورنر جنرال.

د جلالتمابی په حکم،

جسیندا اردن،
صدراعظم.

په شورا کی منظور شوی،

مایکل ویبستر،
د عالی شورا منشی.

د 2012 قانون په اساس صادر شوی دی.

په رسمی جریده کی د خبرتیا نیټه: 8 اپریل 2019.